# انفاق في سبيل الله



Ketabton.com

ليكوونكي: عنايت الرحمن ثاقب

Mail:- inayatsaqib1@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

د روژی میاشت، د تلاوت میاشت، د قیام الیل او د رحمت، مغفرت او د اور نه د خلاصی میاشت سره سره د انفاق فی سبیل الله ( د الله ج په لاره کښي د مال خرچ) کولو میاشت هم ده.

الله ج په لاره کښي د مال لګول د اوچتی مرتبي نیکي ده. چی کوم ته په قران، حدیثو، اصحابو واقعاتو، اسلامي تاریخ او زمونږ په اوسنی دور کښي عجیب او ناشنه مثالونه پیدا کیږي.

څوک چی په اخرت ایمان لري. د الله ج وعدي ریښتوني مني نو هغه به خپل مال د الله ج په لاره کښي د نه خرچ ولي ساتي! قران کښي الله ج فرمایي- الله ج لاره کښي د مال ورکړه د هغه دانی په شان ده کوم چی ۷ څانګی وی او هر څانګه کښي ۱۰۰ دانی وی. (البقره ۲:۲۶۱). نو که دغه مونږ جمع کړو ۷۰۰ دانی کیږي او د روژي په مبارکي میاشت کښي ۱۰ چنده کیږي نو ۷۰۰ له چی ۱۰ کښی ضرب ورکړو نو ۷۰۰۰ کیږی. خو مسله د الله ج په وعدو او پر هغه ایمان او د یقین ده.

یو روایات کښي راځي چی کله به د روژي میاشت راغله نو د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سخاوت به څو چنده شوو. چی د هغي سخاوت نه به هر کس ته فایده رسیده. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به د روژي میاشت د الله ج په لاره کښي د مال د خرچ کولو میاشت جوړوله. الله ج یو کریم او غني ذات دی. هغي په خزانو کښي د هیڅ شي کمي نشته. الله ج د قرض په واپس کولو کښي د اخرت انتظار نه کوي. هغه په خپله لاره کښي د اخلاص واله دومره نازوي او دومره برکت ورکوی هغه اخلاص سره خرچ کوونکي به دی دنیا نه لاړ شي خو د هغي مال به د هغي کورنی هم خلاص نه کړي، او اخرت کښي به هم ثواب او اوچاتي مرتبي ورکړل شي. په دی حوالي سره د خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو څو احادیث وړندي کوم.

☼

حضرت ابو سعید خدري رض نه روایت دي. چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: انسان په خپل ژوند کښي هغه ۱ درهم بهتر دی د مرګ په وخت کښي د ۱۰۰ درهمو نه.

(ابودود)

☼

حضرت ابوهریره رض نه روایت دي. چی یو سړي د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه. کومه صدقه د ټولو نه ډیره د اجر واله ده؟ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: هغه صدقه چی کوم وخت ته صحتمند یی، حریص یی، د تنګداستی خطره وي او د دولتمندی آرزو وي.

سوچ او فکر مه کوئ- کله چی مو ځنکدن وخت نیږدي شي او ساه مو مری ته راشي هغه وخت کښي بیا وایي – د فلاني دومره دي او د فلاني دومره دي حالانکي هغه دولت چی په حرامو لارو لکه رشوت، سود، قمار دي پیدا کړي وو اوس ستا نه دی وخته د فلاني شوی دي اوس هسي چغي وهی یو ورځ به درپسی خیرات وکړي هغه هم د سنتو خلاف بیا به دي هغه خوړه ښځه، بچی او خپل خپلوان هم نه یادوي چی تانه به تاویده راتاویده. ای! غافله انسانه خپل راتلوونکی ژوند لپاره تیاري وکړه. خپل روزمره ژوند کښي د خپل ضروریاتو نه یو څه مال د الله ج په لاره کښي ورکړه او کله چی څوک د الله ج په نوم څه اوغواړي نو همداسی ما تیریږه د خپل حقیقي ژوند د تیاری سوچ وکړه.

☼

یو روایت کښي راځي چی حضرت ام سلمه رض ته چا یو څه غوښه هدیه کړه. نبي صلی الله علیه وسلم غوښه ډیره خوښه وو، نو حضرت ام سلمه رض خپلی خادمی ته وویل دا غوښه محفوظ کیږده کیدایشي محمد صلی الله علیه وسلم تشریف راوړي، هغه دغه غوښه د کور په یو طاق کښي کیخوده، لږ وخت روسته یو سوالګیر راغلي د کور دروزي نه یی اواز وکړه. صدقه ورکړئ، الله ج به تاسو له برکت درکړي، د کور نه ورته جواب ورکړل شوو الله ج دی تاسی له برکت درکړي. نو سوالګیر واپس لاړه. دی کښي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تشریف راوړه او اویی فرمایل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ام سلمه! ستاسره زما لپاره د خوراک څه شته؟ هغي اويل هو، يا د الله پيغمبره! او خادمی ته يی وويل، لاړه شه حضرت محمد صلی الله عليه وسلم له هغه غوښه راوړه، خادمه لاړه هغه طاق کښی د يوی ګټي نه علاوه هيڅ يی پيدا نه کړل.

محمد صلی الله عليه وسلم اوفرمايل- ام سلمه رض تا چی غوښه سوالګير ته ورنه کړه نو ګټه تري جوړه شوله.

په خپل ضرورت باندي د سوالګير ضرورت ته ترجيح ورکول يقيناً چی د صدقي لويه مرتبه ده. ( محمد ص کور کښي چی داسي کيږي نو زمونږ کورونه کښي به خامخه کيږی). بايد چی خپلو ضروريآتو سره سره د بل خيال هم وساتو، او د خپلو بچو او کړوسو فکر کولو سره سره بايد د مظلومانو، کونډو، يتيمانو او غريبانانو خيال هم وساتوو. د الله ج وعدي  مه هيروی، په الله ج يقين وساتی الله ج به زمونږ او زمونږ د بچو خيال وساتي. که چيري مونږ داسی وکړو نو انشاء الله زمونږ کورنی او زمونږ ژوند کښي به هم خوشحالي او برکاتونه پيدا شی او په دعوي سره وايم چی انشاء الله اخرت کښي به هم الله ج هغه مقام راکوي چی د کومو وعدو الله ج او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم يادوني کړي.... نو بيا ولي دومره بی غوري ؟

☼

يو روايت کښي راځي چی حضرت محمد صلی الله عليه وسلم فرمايلي: چي کله هم صدقي په مال کښي کمي نه دی کړي او معافي کولو د انسان په عزت کښي.

(مسلم)

سبحان الله! د بدلي ورکولو کوم انداز دي. د اوچاتو مرتابو ورکولو وعده چی د هغي هيڅ حد نشته، چی وړوکي کهجوره دغره برابر حسابوي. نو انسانه نور څه غواړي! عزت کښی دي اضافه کيږي نو نور څه غواړي ! اکثره خلک دي وجی صدقه نه کوي چی مال به مي کم شي. ليکن محمد صلی الله عليه وسلم فرمايلي: صدقي کله هم مال کښي کمي نه دی کړي. تش په نوم مسلمانه بيا ولي اعتبار نه کوي.

☼

حضرت انس رض نه روايت دي. چی پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايی: صدقه د الله ج غضب لري کوي، او شرميدونکی مرګ نه يی ساتي.

(ترمذی)

☼

حضرت ابوذر غفاري رض وايی- زه د نبي صلی الله عليه وسلم په خدمت کښي حاضر شوم. هغه وخت کښي پيغمبر صلی الله عليه وسلم د کعبی سوري لاندي ناست وو. کله  پيغمبر صلی الله عليه وسلم  نظر پر ما ولګيده نو اوبي فرمايل: هغه خلک دی تباه او برباد شي. ما اويل: زما مور او پلاره په تا قربان! کوم خلک دی تباه او برباد شي ؟

پيغمبر صلی الله عليه وسلم اوفرمايل: هغه خلک دی تباه او برباد شي چی د ډير دولتمندی باوجود د الله ج په لاره کښي خرچ نه کوي. کامياب صرف هغه خلک دي، چی خپل مال مخامخ واله ته ورکړي، شاته واله ته ورکړي، ښي طرف واله او چپ طرف واله خلکو ته ورکړي، د داسي مال خرچ واله خلک ډير زيات کم دي.

(بخاري ومسلم)

مسلمان دولتمنده! داسي لګولو او خرچ کولو واله ولي نه جوړيږئ چی د تباهی او بربادئ نه وساتل شی.

☼

حضرت ابومسعود رض انصاري نه روايت دي. چی يو سړي کمربند اوښه راوسته او عرض يی وکړه چی دا د جهاد لپاره فی سبيل الله وقف کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چی قيمت په ورځ به دی بدله کښي ۷۰۰ اوښي درکړي شي چی کمر بندي به وي.

(ابودود)

دغه د ۷۰۰ چنده تصديق--- او چی رمضان کښي ورکړي نو بيا خپله حساب وکړه چی څو چنده کيږي.

الله ج چی کوم مال درکړي، د هغي لګول د الله ج په لاره کښی هدايت او تعليمات الحمدالله ټولو ته معلوم دي، خو مسله د زړه نه د مال محبت ايستلو ده. چی اصل مرض او د فساد سبب دي، او د دغي علاج انفاق ( الله ج لاره کښي خرڅ کول) دي.

دغه مال کښی د غريب او ناچرو حق دي، چی کله يی ورکړی، نو بيا احسان ما کوی، بلکي د غريب او مسکين ته د خپل حق رسيدل يی وګڼی. ځکه چاته د احساناتو يادول د اجر او ثواب د ختميدو يو ښه مجربه نسخه ده. احسان يادول خو لويه خبره ده بايد احسان يادولو د سوري نه هم ځان لري وساتوو.

مال چيری خرڅ کړو؟ د خپل اهل وعيال ضروريات پورا کول هم صدقه ده. په خپلو خپلوانو کښي څوک حاجتمند وي د هغي مدد کول، په ګاونډ کښی څوک ضرورتمند وي خصوصاً که ګاونډ کښي کونډي يا يتيمانان وي د هغوی اول حق دي بايد د هغوی ضروريات پوره کړي شي، لکه د واده جائز ضروريات، قرض، علاج، تعليم د ټول هغه حقيقي مسائل دي چی هر څوک ورته وړتياء لري. که چيري دغه مسائل د الله ج د رضاء لپاره يی ورله حل کړی، نو يقيناً چی الله ج به دنيا او اخرت کښي کامياپي درکړي او الله ج به ستا هغه ضروريات پوره کړي چی ته يی ضرورت لري.

که خواوشاه کښی مو دين غالب نه وي نو د هغي د غالب کيدو لپاره کوشش او د وخت او صلاحيت سره خپل مال هم خرڅ کړو. او کله حقيقي جهاد وي هغي کښی د ريښتوني مجاهدينو مدد او خپله هم حصه په کښي اخيستل پکار دی. د خپل چاپيريال د صفايي خيال ساتل هر کار دولت ته نه پريښودل بايد د خپلو کارونو څخه يو کار وګڼوو.

سر لوړي او کامياب قومونه هغه دي، چی هر کار په خپلو مټو ترسره کوي نه د چی د بل د اوګو بار شي. غلطی د هر چانه کيږي بايد مونږ تل يو بل د الله ج د رضاء لپاره معاف کړو، ځکه الله ج معاف کوونکو سره دي. د مسلمانانو تر منځ صلح وکړی او يو مسلمان ورور ته د تکليف رسيدو نه ځانونه وساتی. نو بيا اوګوری چی ستاسی دغه تنګ، ستړي، خفګانونو او د شر نه ډک ژوند څنګه په خوشحالی او په سکون بدليږي. خو چی اخلاص په کښي وي او د الله ج رضاء لپاره وي.

{ومن الله توفيق}

## نوټ:- د لوستلو نه روسته د ثواب په خاطر يی بل مسلمان ورور ته هديه کړی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**